مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۱۰/۲۷

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(څوارلسمه برخه)

## له افغان ولس او غازي امان الله خان سره د جنرال نادر خان غداري او ټګي (۳)

نادر خان چې څه په خوله ویلي وو د هغي برعکس عمل یي تر سره کړ، هغه له فرانسي نیولي، د هند تر بمبيي، ډیلی، لاهور، پېښور، خوست، ګردېز، ځاځیو او د سلامخاني په همدي غونډه کي (چي خپله پاچاهي یي اعلان کړه) په پرله پسي توګه ویلي وو چي زه پاچاهي نه غواړم خو هماغه پاچاهي یي وغوښته.
نادر خان چي کومي ژمني له افغان ولس سره کړي وي سربېره پر نورو لیکوالانو چي د نادر خان ژمني یي ثبت کړي دي، پخپله د نادر خان ورور، شاه ولي خان د خپلو خاطرو په کتاب کي څو ځایه د هغه دا ډول ژمني لیکلي دي چي لومړی ژمنه یي هغه مهال وه چي کله نادر خان او ورونه یي له فرانسي څخه د هند پر لور وخوځیدل، شاه ولي خان لیکي چي د فرانسي «په مارسلیز کي هغه مهال چي موږ په بېړی کي کېناستو، دوه تنه د فرانسي د جریدو خبریالانو له سپه سالار پوښتني وکړي:«افغانستان ته ستاسو تلل د سقاؤ زوی سلطنت ته تسلیمدل دي، یا د پاچاهی منل، که د امان الله له سلطنت سره موافقه ده؟؟؟»
شاه ولي خان وايي، سپه سالار داسي ځوابونه ورکړل:«افغانستان ته زما تلل یوازي د هېواد لپاره خدمت، د امن او نظام په لاره کي کوښښ دی، زه نه شم کولی افغانستان په دا ډول بلوا کي ووینم؛ زه هېڅکله هغه چا ته نه تسلیمېږم چي ټول ملت د هغه مخالف دی؛ د پاچاهی د قبلولو په هکله زما مقصد په هېواد کي امنیت او خدمت کول دي، کله چي د خدای په مرسته بغاوت او اردور له منځه یوړل شي، تولنیز نظام ټینګ شي، **د عمومي ټاکنو او ټول ولس په رایه به پاچا وټاکل شي، په دي برخه کي زه د یو عادي افغان په توګه خپله مداخله جایزه نه بولم او د سلطنت د مقام لپاره یوه زره هیله هم نه لرم او هېڅکله به په دي هکله ګام پورته نه کړم.**
**د اعلیحضرت امان الله خان له سلطنت سره مي هېڅکله مخالفت نه درلود او نه یي لرم چي دا هم د افغانستان د خلکو په رایو پوري اړه لري.»**[1]

هغه مهال چي نادر خان له فرانسي څخه هند ته ورسید نو د هند مسلمانانو له هغه پرله پسي غوښتني کولي چي له امان الله خان سره مرسته وکړي چي له هغو څخه یو هم مولانا ظفر علي خان ؤ. مؤرخ سید بهادر شاه کاکاخېل لیکي:«د ۱۹۲۹ز، کال د فبرورۍ په ۲۴مه سردار نادر خان د افغانستان په نیت له کراچی نه پېښور ته روان شو، هم په دغه ورځ د لاهور په رېلوې سټیشن کي مولانا ظفرعلي خان د مجلس خلافت د یو لیډر په حیثیت د هغه سره ملاقات وکړو له هغه یي د هغه د ارادو په باب پوښتنه وکړه. سردار نادر خان د دې په ځواب کي وویل چي «زما دا اراده ده چي زه به تر هغه وخته آرام نه کوم تر څو چي مي د کابل تخت د بچه سقاؤ نه، نه وي راستون کړی **او امان الله خان ته مي نه وي ورکړی.»**
په دغه ورځ او په دغه ګاډي کي مولانا ظفرعلي خان د هغه سره پېښور ته راغی، بله ورځ په پېښور کي د مجلس خلافت د یو وفد [استازو] سره مولانا ظفرعلي خان بیا د نادر خان سره ملاقات وکړو په دې ملاقات کي مولانا د نادر خان نه دا استدعا [غوښتنه] وکړه چي هغه دي اول کندهار ته لاړ شي او د امان الله خان سره دې مشوره وکړي او د یو متفقه پروګرام مطابق دې کار شروع کړي. مولانا هغه ته دا هم وویل چي زه په دې وینا کي د هند د ټولو استوګنو د خواهش ترجماني کوم.

---

[1]:مارشال شاه ولي خان: یاد داشتهای من. ۴۴مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د دې په ځواب کې نادر خان هغه ته وویل چې کوم خواهش د هندوستانیانو دی هغه خواهش زما هم دی. یاني: **د کابل په تخت باندې د امان الله خان متمکن [کېنول]** ولې هندوستانیانو ته په کار دې چې د مقصد د حصول طریقه دې هغوی زما په مرضی پرېږدي، زه د یوې داسې طریقې اختیاروونکی یم چې د دې په وجه به د افغانستان په وقار کې زیاتی راشي، زما صحت خراب دی، یو څو روځو د آرام نه پس به د خپلو ورونو سره مشوره کوم او بیا به روانېږم.[2]
نادر خان په پېښور کې له پاچا خان سره سم دم د یو رښتني پښتون په څېر هم ژمنه کړې وه او دا یې هم ویلي وو چې که ما خان پاچا کړ نو بیا راته مخ تور کړه، فخر افغان لیکي:«یوه ورځې زه او نادر خان یوازې یوه کمره [کوټه] کې ناست وو، د افغانستان په مستقبل مو خبرې کولې چې ده ما ته ووې زه چې هر څه کوم نو د امان الله خان د پاره یې کوم. ما ورته ووې چې خلک وایي چې د حبیب الله خان هغه زوی چې ستا خوریی دی، تاسو د هغه په حکومت باندې د کېنولو د پاره کوشش کوئ. ده راته ووې چې ته به هم ژوندی یې او زه به هم ژوندی یم، که چېرې ما هغه بادشاه کړو **یا پخپله بادشاه شوم نو ته راشه او مخ راله تور کړه او راته ووایه چې نادره خپله وعده دې پوره نه کړه.»**[3]

نادر خان په پېښور کې هغه مهال چې له علي احمد خان سره یې لیدنه درلوده هغه ته یې هم وویل چې سلطنت نه غواړي، د سلطنت مسئله په ټولو خلکو پورې اړه لري، **زه هېڅکله نه غواړم پاچا شم،** زما هیله یوازې هېواد ته خدمت کول دي.[4]
نادر خان په خوست کې د ګردېز د احمدزیو مشر غوث الدین د جانداد زوی ته هم ویلي وو چې**«زه د پاچاهی لپاره نه یم راغلی.»** هغه ویلي وو چې د پاچاهی مسئله به د افغانستان ملت فیصله کوي. همدا رنګ نادر خان په ګردېز کې د سلیمانخېلو د قوم له مشرانو سره هم **له پاچاهی څخه انکار وکړ.** [5]

د ۱۹۲۹ز، کال د مارچ په میاشت کې نادر خان د سقاؤ زوی ته پیغام[6] لیږلی ؤ، ورته ویلي یې وو چې پښتانه به هغه ته واک ورنه کړي او یو څوک به د افغانستان د پاچاهی پر تخت کېنوي چې د پښتنو په منځ کې نفوذ ولري. هغه د سقاؤ زوی ته ویلي وو چې که د ده شرایط ومني نو د راتلونکي پاچا مرستیال به یې وټاکي.[7]
د نادر خان له لیک څخه په ډاګه کیږي چې ده د سقاؤ زوی ته ویلي وو چې دی د پاچاهی غوښتونکی نه دی، پښتانه به یو څوک د افغانستان د پاچا په توګه وټاکي.
د پورته ژمنو په څېر چې پاچاهي به نه غواړي او نه به یې غصب کوي، نادر خان په پکتیا کې له مجددیانو سره هم څو ځلې لیکلي او شفاهی ژمنې کړې وې، هېښوونکې خو لا دا ده چې نادر خان یو ځل له فضل عمر مجددي (نورالمشایخ) سره د قرآن کریم پر لمن‌لیک باندې لیکلي ژمنه هم کړې وه چې د افغانستان پاچا به د لویې جرګې لخوا ټاکل کیږي. وړاندې له هغې چې نادر خان په قرآن عظیم ژمنه وکړي، له مجددیانو سره نادر خان منښته وکړه چې محمد معصوم مجددي یې په اړه لیکي:«زه او حضرت صاحب [نورالمشایخ] په دې نظر وو، تر هغې چې د هېواد ټول ملت له یو تن سره بیعت ونه کړي، څوک باید پاچا نه شي، دا چې موږ هر یو په مختلفو سیمو کې د حبیب الله کلکاني سره د جګړې لپاره تیاری نیسو، نو له دغو درو تنو (نادر خان، حضرت صاحب نورالمشایخ او غوث الدین خان) هر یو چې کابل فتح کړي نو باید د دوو پاتي کسانو له مشورې او د هغو قبایلو له تایید پرته چې د ننه په افغانستان کې اوسیږي د پاچاهی اعلان ونه کړي.»[8]
په ګردېز کې شاه ولي خان د خپل ورور نادر خان په استازیتوب له مجددیانو سره په لیکلي بڼه هماغه غولوونکي ژمنه چې پاچاهي نه غواړي، هم کړې وه چې په اړه یې معصوم جان مجددي لیکي:«د نورالمشایخ کوښښ دا ؤ چې قومونه د سقاؤ پر خلاف سره یو کړي او په لیکلي توګه داسې ژمنه وشي، تر هغې چې سقاویان له منځه نه وي تللي، باید څوک

---

[2]: سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل: پښتانه د تاریخ په رڼا کې. ۸۷۴مخ.
[3]: زما ژوند او جدوجهد: ۳۴۸ مخونه.
[4]: یاد اشتهای من. ۴۹مخ.
[5]: یاد دشتهای من. ۵۶مخ. ۵۹مخ.
[6]:د جنرال نادر خان په ځواب کې حبیب الله [سقاؤ] وویل:«تر هغې چې زه ژوندی یم، دغه تخت چې د توري په زور مې نیولی دی او زما په لاس کې دی چا ته به یې ورنه کړم.» پروفیسور ډاکټر یوري تیخانف: نبرد افغاني استالین. ۲۳۰مخ؛ الکساندر کنیارف، عبدالشیق، پانین، پلیف او تیخانف: رازهای سر به مهُر تاریخ دیپلماسي افغانستان... دري ژباړن: عزیز آریانفر. ۱۵۶مخ.
[7]: نبرد افغاني استالین. ۲۳۰مخ.
[8]: یادداشت ها خاطرات سیاسی حضرت محمد صادق المجددی. برګزیده: عبدالله المجددی ۳۸۵مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

پاچا ونه ټاکي چې وروسته بیا د لویې جرګې غونډه راوغوښتل شي تر څو د ولس د استازو لخوا د افغانستان پاچا وټاکي.»
مجددي یې په دوام لیکي چې سردار شاه ولي خان په خپل لاس په دې ترون کې داسې ولیکل:**«زموږ کورنۍ هیڅکله د پاچاهۍ هیله نه لري او موږ به هیڅ وخت د افغانستان پاچاهي و نه غواړو.»**[9]
نورالمشایخ مجددي، غوث الدین او د خروټو مشر آدم خان، د افغانستان د پاچاهۍ خوبونه لیدلي وو، په ځانګړي توګه نورالمشایخ مجددي چې څه موده وړاندې یې په غزني کې د غلجیو قومونه د امان الله خان له ځواکونو سره په جګړه اچولي وو او بریالی شوی ؤ، نو ډېر مغرور شوی ؤ او ځان ته یې پوره تمه پیدا شوې وه او د نادر خان په څېر د افغانستان پاچاهۍ ته غل او شمَن ؤ. نورالمشایخ او نورو، د کابل نیول او د افغانستان د پاچاهۍ ترلاسه کول اسانه چار بللي وه، دوی هر یو په خپلو منځو کې په ځانګړي توګه په نادر خان باندې بې باوره وو چې هسې نه، له دوی مخکې ځان پاچا کړي، مجددیان د نادر خان په تشو ژمنو ډاډمن نه وو، نو غوښتنه وشوه چې په قرآن مجید کې دې په لیکلي بڼه ژمنه وشي، هغه وو چې «نادر خان، نورالمشایخ او د خروټو د قوم مشر آدم خان تر منځ پرېکړه وشوه چې د افغانستان پاچا به د خلکو د شورا لخوا ټاکل کیږي. **د دغې ژمنې متن د قرآن په لمنلیک کې ولیکل شو او حضرت نورالمشایخ، محمد نادر خان او آدم خان خروټي په ګډه لاسلیک کړ.** تینګار وشو چې کله درې واړه د کابل ښار ته ورسیږي، نو د پاچاهۍ موضوع به د ټولو قومونو په مشوره ترسره کړي.»
معصوم مجددي زیاتوي:«کله چې نادر خان شاهي ارګ ونیو، خپل ملګري او د امان الله خان منصبداران یې پر ځان راټول کړل او د هغوی په مرسته یې کابل ته د حضرت نورالمشایخ د راتګ مخه ونیوله، د ځان په نوم یې د پاچاهۍ اعلان وکړ او هغه ژمنه چې په قرآن مجید کې یې کړي وه تر پښو لاندې کړه.[10]
له بدو بده خو لا دا چې نادر خان یوازې له مجددیانو سره همدا یوه قرآني ژمنه نه وه کړې، بلکې د ځاځیو په علیخېلو کې یې د وزیرستان او لویې پکتیا له مشرانو سره هم په قرآن حکیم باندې لیکلې لوړه وکړه چې هغه (۱۵) مادهییز ترون چې د قومونو او نادر خان تر منځ لاسلیک شوی ؤ، په بشپړه توګه پلې کوي. د ترون په پنځمه او شپږمه ماده کې راغلي وو چې:
۵ـ «د وطن له نجات وروسته دې اعلیحضرت غازي امان الله خان سلطنت کولو ته راوغوښتل شي او یا دې د ده له خپلخانې څخه یو بل اهل ته سلطنت وسپارل شي.»
۶ـ «د اعلیحضرت غازي امان الله خان تر راتګ پورې به سپاه سالار صاحب د سلطنت وکیل وي.»[11]
د وزیرو د لښکر قوماندان جرنېل غازي یار محمد خان زیاتوي چې «د ځاځیو د علیخېلو په غره کې چې د سفر غره په نوم یادیږي، **نادر خان د جرګې له مشرانو سره په قرآن [کریم] لاسلیک وکړ چې د جرګې ټولو پرېکړو ته به غاړه ږدي او له حبیب الله [سقاؤ] سره به هیڅکله مصالحه نه کوي.»**[12]
وروسته له هغې چې نادر خان په ټګۍ سره د خپلو پرله پسې ژمنو پر خلاف د افغانستان پاچاهي خپله کړه، نو په ۱۳۰۹ل. ل، کال کې یې د لویې جرګې په نوم غونډه راوبلله، د نادر خان یو هدف دا ؤ چې غازي امان الله خان د نوموړې جرګې لخوا سپک او ورټل شي او هغه اغېز او محبوبیت یې چې ورځ تربلې د افغانانو په منځ په زیاتیدو ؤ، له منځه یوسي، دغې فرمایشي او تش په نوم لویې جرګې د نادر خان په لمسون، پر غازي امان الله خان باندې یو شمېر داسې بې بنسټه تورونه ولګول چې د امان الله په وینا: پرته له ښکنځلو او سپکوسپورو بل څه نه وو. هغه وو چې امان الله خان د نادر خان د تورونو پر وړاندې خپل ځوابونه یا دفاعیه ولیکله، په لیکنه کې یې نادر خان یو نمکحرامه او نمک نه پېژندونکی جرنېل بللی دی چې د ده په نوم یې په غدارۍ سره واک ترلاسه کړ، امان الله خان لیکي:«زما د بې وفا او نمک نه پېژندونکي جرنېل محمد نادر بری پر دوو ژمنو ولاړ ؤ: یو دا چې زما په نوم او ما ته د خدمت کولو په نوم یې له خلکو سره ژمنې کړي وې، **هغه ویلي وو چې نه دی په خپله او نه د هغه کورنۍ د سلطنت کولو اراده لري، که چېرې خلک هغه اړ هم کړي پاچاهي به ونه غواړي.** او تل یې دا ډول ژمنې پخپلو **قسمونو** سره ټینګولې.
دویم دا چې **د ملت رایه او خوښه یې شرط بللې وه** او د سقاؤ د زوی حکومت چې یو جاهل او استبدادي حکومت او د ملت خلاف ؤ د له منځه وړلو هوډ ښکاره کړی ؤ.
وروسته له هغې چې نادر خپلې ژمنې ګړندۍ او بیا، بیا اعلان کړې نو ملت له هغه سره یو ځای شو چې له امله یې بریالی هم شو، هغه له بریا وروسته هیڅ یوه ژمنه ترسره نه کړه، بلکې د هغې یادونه یې هم ونه کړه، ده پخپلو اعلانونو

---

[9]: هماغه کتاب.۳۹۳مخ.
[10]:هماغه کتاب. ۴۰۲مخ.
[11]: جرنېل یار محمد خان وزیری: د افغانستان د خپلواکې او نجات تاریخ. ۲۵۹مخ.
[12]: د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ. ۲۶۱مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کي ویل چي هغه ملت پاچاهی ته اړ کړی دی خو ټول افغانستان پوهیږي چي په سلامخانه کي څو کسانو شتون درلود او هغوی د ملت د استازو په توګه څومره حیثیت درلود او هغوی څه وویل.
آیا د کندهار غیورو خلکو په کندهار کي د غلو ډله د چا لپاره مغلوبه کړه او د کوم شخص بیرغ یي پورته کړ. ملت د نادر خان د پاچاهی په اعلانولو سره خواشیني شو چي **هغه یي یو بدعهد، نمکحرام او بي وفا کس وباله.»**[13]
د انګریز د زماني د پېښور والي (ګورنر) سر اولف کارو هم د خپل انډیوال نادر خان غولوونکو ژمنو ته اشاره کړي وایي چي «په دې وخت کي نادر خان له فرانسي څخه راغی او هڅه یي کوله چي قدرت بېرته د محمدزیو لپاره ونیسي، ده او د ده ورونو هاشم خان او شاه ولي‌خان متحداً په لومړي سر کي د امان الله خان د بیا راوستلو لپاره هڅه کوله، **البته دا تظاهر ؤ او په دې نامه یي خلک پر خان راټولول.»**[14]
نادر خان پاچاهی ته د رسیدو په لاره کي له ډېرو مشکلاتو سره هم مخ ؤ، د پښتنو یو شمېر قومونو په ځانګړي توګه د وزیرستان او نورو قومونو له امان الله ملاتړ کاوه او ځینو نور بیا د سقاؤ ملاتړي وو، نادر خان له انګریزانو په پټه مرستي ترلاسه کولي چي انګریزانو ته پښتنو د حربي کفارو او دښمن په سترګه کتل، ده نه شول کولی د امان الله خان پر خلاف ځرګندوني وکړي او یا یي ملاتړ وکړي، د انګریزانو د مرستي خو پرځای پرېږده، د انګریزانو نوم یي هم نه شو یادولی، نادر اړ ؤ چي په اره یي له ډېر احتیاطه کار واخلي، که نادر په ځرګنده د امان الله خان مخالفت کړی وای، دی به هېڅکله واک ته نه وای رسیدلی او د لرو برو پښتنو له مرستي به محروم شوی وای.«نادر خان د یو سوړ دماغ او لوی تدبر خاوند وو، تر څو چه امان الله په قندهار کي موجود وو نو هغه خپلي ارادي په واضحو الفاظو کي نه ځرګندولي ځکه چي په دې صورت کي به د امان الله خان طرفدارانو د هغه د مرستي نه انکار کړی وو او د هغه په لار کي به ډېر مشکلات پیدا شوي وو او د هغه کامیابي به ګرانه شوي وه.»[15]
وایي چي **(غل په غره کي نه ځايیږي)** نادر خان چي پاچاهي غضب کړي وه، د امان الله خان له پلویانو، په ځانګړي توګه د وزیرستان له خلکو په وېره کي ؤ، نو یو ځل بیا یي په خپلو ماهرانه دروغو یي خلک تېر ایستل چي امان الله له روم څخه کابل ته راولي. چي په اړه یي امان الله خان لیکي:«نادر چي د ځان لپاره پاچاهي اعلان کړه، نو ملت له دغي پېښي ډېره کرکه وکړه چي ولي یي تولي وهل شوي لاري پرېښودي او هیواد یي له ارتجاع [انګریزانو] سره مخ کړ. بیا یي هم یو څو ورځي ملت په غلطو آوازو زړه نازړه کړ چي یوه آوازه یي دا وه چي شاه ولي خان روما (روم) ته دروممي او دغه له هیواده لرې [امان الله خان] هیواد ته [د پاچاهی] لپاره راولي. څه موده وروسته یي وویل چي ما [امان الله خان] اروپا خوښه کړي ده، نه غواړم چي بیا ځلي افغانستان ته ستون شم. دغه دوره هم ژر تېره شوه او د دغو خبرونو دروغ هم مالوم شول.»[16]

نېټه:۱۴۰۲/۸/۵ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلي محمد انور اخړ آرشیف]

---

[13]: کشف الحال نادر، به قلم اعلیحضرت امان الله خان.
[14]: سر اولف کارو: پښتانه (پټانز). ژباړن:الحاج شېر محمد کریمي. ۶۰۷مخ.
[15]: پښتانه د تاریخ په رنړا کي. ۸۷۶مخ.
[16]: کشف الحال نادر، به قلم اعلیحضرت امان الله خان.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ